## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## کولرا د سوریې خلک وژني؛ داسې دولت شته چې ملاتړ یې وکړي؟!

د سوریې رژیم د روغتیا وزارت دوشنبې اعلان وکړ چې کولرا وبا په بېلا بېلو سیمو کې د ۲۹ کسانو ژوند اخیستی. د مړو او ټپیانو شمېر د حلب ولایت په شمال کې زیات و؛ هلته د ۲۵ کسانو مړینه تایید شوې. د سپټمبر په ۱۹مه د سوریې د روغتیا وزارت له لوري د خیریه موسسې او د سوریې په شمال او ختیځ کې د سیمه ییزې روغتیا مدیریت د معلوماتو له مخې، په ټول هېواد کې د زرګونو نورو مشکوکو قضیو راپور ورکړل شوی. د دغو پېښو شمېر په داسې حال کې زیاتېږي چې ملګرو ملتونو په همدې میاشت کې اعلان وکړ چې دا وبا د فرات رود له هغو ککړو اوبو سره تړلې چې د سوریې له شمال څخه د ختیځ پر لور روانې دي او د ځمکو خړوبولو او څښاک لپاره ګټه ترې اخیستل کېږي.

د سوریې د جګړې له امله رامنځته شوی ناورین ډېر لوی دی؛ ځکه چې د روغتیا ساتنې نیږدې نیمایي تاسیسات یې ویجاړ کړي او بېخبنسټونو ته یې سخت زیان رسولی. دا جګړې په ډېری اغیزمنو سیمو کې د اوبو د سرچینو د کمښت لامل شوې دي. دې چارې ډېر خلک له ککړو اوبو څخه ګټې اخیستنې ته اړ کړي چې په پایله کې یې د ساري ناروغیو خپرېدل ګړندي کړي؛ په ځانګړې ډول د حلب، چې د رژیم د مخالفانو تر ټولو لوی مرکز دی، ډېر خلک پر کولرا اخته شوي. پر دې سربېره، دغو جرمونو په ګڼ مېشتو سیمو کې زرګونه ماشومان، ښځې، ځوانان او بوډاګان وژلي؛ زرګونه زده کوونکي یې له زده کړو بې برخې کړي او له ښوونځیو او کورونو یې کډه کولو ته اړ کړي دي. د خوړو نه خوندیتوب په زرګونو ماشومانو کې د لوږې او خوارځواکۍ د خپریدو لامل شوی دی.

په سوریه کې د تش په نامه بشرپالو سازمانونو ادعاوې درواغ دي. د دوی موخه د بشر د درد او کړاو کمول نه، بلکې د ظلم پر وړاندې پر پاڅون کوونکو د جنایتکار رژیم د وحشیانه جګړې د مستقیم مسولیت کمول دي. ښکاره خبره ده چې پانګوال هېوادونه په سوریه کې هم د یمن، میانمار، فلسطین، کشمیر او نورو هېوادونو پشان د مسلمانانو د ژغورلو اراده نه لري؛ ځکه چې د دوی د پانګوالو معیارونو له مخې، دا کار هېڅ ډول سیاسي ګټه نه لري او د ماشومانو او بې دفاع ملکي وګړو د وژلو پای ته رسول دوی ته اقتصادي ګټه نه رسوي.

**اې مسلمانانو:** لکه څنګه چې پوهیږئ، په سوریه کې زموږ پر خلکو بشري ناورین راغلی؛ ځکه چې اوبه هغو موادو ککړې کړې چې په صنعت او کرنه کې کار ترې اخیستل کېږي؛ لکه درانه فلزات، سرب، سیماب، کیمیاوي مواد، سرې او نور خطرناک مرکبونه. دا اوبه کېدای شي په میکروبونو، باکټریاوو، ویروسونو، پرازیټونو او د چینجیو په څېر نورو ژوندیو موجوداتو په واسطه هم ککړې شي. که دا ستونزه حل نه شي، دا ککړتیا د ډېرو نورو ناروغیو

لامل کېدای شي چې د انسان روغتیا زیانمنوي. د روغتیا د نړیوال سازمان په وینا، په ټوله نړۍ کې تر یو ملیارد ډېر خلک د ځنباک له پاکو اوبو څخه بې برخې دي او هر کال لږ تر لږه څلور میلیونه کسان، چې ډېری یې ماشومان دي، د ککړو اوبو له څښلو څخه راپورته کېدونکو ناروغیو؛ لکه ټایفایډ تبې، کولرا، شیستوزومیاز، شدید نس ناستي او نورو، له امله مري.

په شریعت کې د هغو اوبو ککړول منع دي چې په ټولو مسلمانانو پورې اړه لري. دا د دولت مسولیت دی چې د اوبو پر سرچینو او پاکو اوبو باندې څار او پام وکړي او له پاکوالي یې ډاډمن شي. خو هغه عادل او ملاتړی دولت چېرته دی؟!

د دولت په نشتون کې دا د امت وضعیت دی! دا امت به تر هغه په زوال کې وي، تر څو چې پوه نه شي چې ژغورنه یې یې یوازې د دین په درک کولو او په ژوند کې د هغه په پلي کولو کې ده. هغه دولت چې د خپلې عقیدې مطابق احکام او مقررات پلي کړي؛ دا دولت د نبوت پر منهج راشده خلافت دی.

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنصُرُ مَن يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

**ژباړه:** *«... او په دغه ورځ به مسلمانان د الله تعالی نصرت باندې خوشالي وکړي. الله تعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي چې خوښه یې شي. هغه برلاسی او پوره رحم لرونکی دی.»* [روم: ۴-۵]

**د حزب التحریر- ښځو برخې مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۴مه**

**۲۰۲۲م کال، د سپټمبر ۳۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۰/ ۱۴۴۴**